**د افغانستان اسلامي جمهوریت**
**د عامې روغتیا وزارت**
**د سرطان د کنټرول ملي پروګرام**

# کیموتراپي (سرطان ضد درمل) څه ته وايي؟

**سرطان پر وړاندې مبارزه**
**مونږ کولای شو، زه کولای شم**

CANCER CENTER
+93 - 79 - 444 - 7000
NCCP@MOPH.GOV.AF
MOPH.GOV.AF

## کیموتراپي (سرطان ضد درمل) څه ته وايي؟

د سرطان درملنې یو ډول دی چې د سرطاني حجراتو له منځه وړلو یا تخریبولو لپاره استعمالیږي.

د کیموتراپي اغیزې: کیموتراپي هغه سرطاني حجراتو چې په چټکۍ سره پراختیا او تقسیمیږي د ودرولو او کمزوري کولو لپاره کارول کیږي، چې په سالمو یا روغو حجرو باندي هم ناوړه اغیزه لري.

کېموتراپي د کومو اهدافو لپاره کارول کیږي؟ کیموتراپي د لاندې اهدافو لپاره کارول کیږي:

۱. د سرطان درملنه: کېموتراپي سرطاني حجرات له منځه وړي او د بیا ځلي پرمختګ مخنیوي یې کوي.

۲. د سرطان کنټرول: کېموتراپي د سرطاني حجراتو وده، خپریدل او د سرطان پرمختګ کمزوری کوي او هغه سرطاني حجراتو چې د بدن نورو برخو ته یې پراختیا موندلې وي د له منځه وړلو سبب ګرځي.

۳. د سرطان علایمو کموالی: دا هغه سرطاني تومورونه کوچني کوي چې د درد او فشار سبب ګرځي.

کېموتراپي څه ډول کارول کېږي؟ ځېني وخت کېموتراپي په یوازې توګه د سرطان د درملنې لپاره کارول کیږي خو ډېر کله کېموتراپي د جراحۍ، راډیوتراپۍ یا شعاع (وړانګو) او یا هم بیولوژیکي درملنې په اوږدو کې تطبیق کیږي.

## د کیموتراپي تطبیق:

کیموتراپي باید د یو متخصص ډاکتر ترڅارنې لاندې تطبیق شي. همدارنګه تطبیق په هر ناروغ کې فرق کوي.

ناروغ باید د کیموتراپۍ (سرطان ضد درمل) تطبیق په وخت کوم ټکي په پام کې ونیسي؟

- آرامتیا: ناروغ کولای شي داسي یوځاي انتخاب کړي چې د خوشالۍ احساس وکړي او دې ته ورته نور فعالیتونه چې د نوموړي د آرامتیا سبب ګرځي.
- فزیکې فعالیت: د ډېرو خلکو احساس د ساده تمرین پواسطه ښه کیږي، لکه قدم وهل، بایسکل چلول او یا هم ځېنې نور تمرینونه چې توان یې ولري او یا کولای شي خپل ډاکتر سره د تمرین په اړه مشوره وکړي.
- له نورو سره خبرې: د خپل احساس په اړه یو چا سره خبرې وکړي چې تاسې پرې باور لرئ داسې یو څوک انتخاب کړئ چې هغه پر تاسو ډیر پام کوي یا مو خبرو ته غوږ نیسي. تاسې کولای شئ یو نژدې ملګري، د کورنۍ غړي، نرس، د ټولنیزې چارو کارکوونکي وټاکئ. کېدای شي هغه څوک چې تاسې ته کېموتراپي درکوي هغه له تاسې سره ډېره مرسته وکړي.
- د ملاتړ کوونکي ډلې سره یوځای شئ:

د سرطان ملاتړ کوونکې ډله د سرطان اخته ناروغانو سره مرسته کوي، دا ډله تاسې ته لارښوونه کوي چې خپل احساسات له نورو سره چې ستاسې په څېر ستونزې لري شریک کړئ، له دې لارې کولای شئ پوه شئ چې نور خلک څه ډول د سرطان، کېموتراپي او ناوړه ستونزو پر وړاندې مبارزه کوي.

## د درملنې ناوړه اغیزې (جانبي عوارض):

د سرطان درملنې پر وخت معمولآ ستاسې د وجود مقاومت ټیټیږي چې په نتیجه کې ستړیا، زړه بدوالی، کانګې، د وینې کموالی، د ویښتانو توېدل، د خولې زخمونه، دردونه اوداسي نور په ناروغ کې لیدل کیږي.

## د ناوړه اغیزو د رامنځته کېدو پرمهال باید څه وشي؟

ناروغ باید خپل متخصص ډاکتر سره خبرې وکړي او د خپل ځان او رامنځ ته شویو ستونزو په اړه هغه ته بشپړ معلومات ورکړي.
د دغه ټولو حالاتو په نظر کې نیولو سره ویلای شو چې سرطان داسې ناروغي ده چې نه یوازې زموږ په هیواد بلکې په ټوله نړۍ کې پیښې مخ په ډیریدو دي او پر وخت تشخیص یې کولای شي د درملنې سره پوره مرسته وکړي او ناروغ به بشپړه توګه ښه والي ترلاسه کړي .